# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د زمري لومړۍ | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۳مه | دریېم کال| ۴۰۹مه ګڼه


## حسين حقاني: طالبان په زور ځان واک ته رسول غواړي، پاکستان يې ملاتړی دی




٣

## څېره

۴ مخ




## په کندهار کې د انګورو حاصلات ۱۵ سلنه زيات شوي دي



د کرنې وزارت اټکل کوي چې په کندهار ولايت کې د تېر کال په پرتله، د انګورو حاصلات ۱۵ سلنه زيات شوي دي.

د دغه وزارت وياند اکبر رستمي پرون ازادي راډيو ته وويل، د وړاندوينو له مخې او دا چې په دغه ولايت کې د انګورو بڼونه زيات شوي، سږ کال به په دغه ولايت کې ۲۷۳ زره او ٦٠ مټريک ټنه انګور تر لاسه شي.

رستمي وايي، دغه وزارت د نورو مېوو په پرتله انګورو ته ښه کورنی او بهرنی مارکېټ لري. نوموړی زياتوي: «د دې لپاره چې د انګورو ډېره برخه په کارخانو کې په شنو او سرو انګور بدلېږي او دغه شان په تازه ډول هم بازار ته وړاندې کېږي، له کندهاره؛ هندوستان، اماراتو او بېلابېلو ولايتونو ته يې د انتقال ښه زمينه برابره ده».

ټاکنې چې د سولې چانس له منځه وړي

۲ مخ

طالب رهبري په لوی ازمايښت کې

۲ مخ

د سعودي پاچا ولې امريکايي سرتېري راوغوښتل؟

۳ مخ

## بهرنيو ځواکونو په لوګر کې کوچيانو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده

د لوګر سيمه ييزو چارواکو ويلي، په بره کي برک ولسوالۍ کې پر کوچيانو هوايي بريد شوی چې له امله يې اووه تنه وژل شوي او د ښځو په ګډون شپږ تنه نور ټپيان شوي دي.

د بره کي برک ولسوال احمد ويس عبدالرحيمزي رسنيو ته ويلي، چې ورمه شپه د خاکې په دښته کې د کوچيانو پر دوو کورونو هوايي بريدونه شوي دي.

هغه ويلي چې په دغه پېښه کې اووه کوچيان وژل شوي او د دريو ښځو په ګډون اووه ته نور ټپيان شوي دي.

که څه هم ولسوال دا نه دي ويلي چې دغه بريد د چا لخوا تر سره شوی، خو د دغه ولايت د امنيې قوماندانۍ وياند شاپور احمدزي ويلي چې دغه بريد د امريکايي ځواکونو له خوا شوی دی.

احمدزي زياته کړې: «امريکايانو موږ ته ويلي چې وژل شوي کسان طالبان دي، خو موږ يې تر اوسه په اړه دقيق معلومات نه لرو».

خو بل لورته امريکايي ځواکونو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ويلي.

دغه راز د سيمې يوه اوسېدونکي هجرت کوچي پژواک ته ويلي چې دغه بريد ورمه شپه ۱۱ بجې د نورخان پر کور شوی دی.

هغه ويلي چې په دغه پېښه کې نهه تنه وژل شوي او د ښځو په ګډون شپږ تنه نور ټپيان شوي دي.

د يادونې ده چې څو ورځې وړاندې په بغلان ولايت کې هم د ملکي خلکو پر کورونو هوايي بريدونه شوي وو چې ډېرو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې وه.

## که په ميدان وردګو کې د ملکيانو وژنه ونه درول شي، له حکومت سره به پرېکون وکړو



۵ مخ

## قيصاري: جنرال دوستم برايم اجازه نمی دهد که به شمال بروم




نظام‌الدين قيصاری، از قوماندانان خيزش‌های مردمی در شمال که در ماه سرطان سال پار از سوی نيروهای ويژۀ امنيت ملی بازداشت شد، اکنون جنرال عبدالرشيد دوستم، معاون نخست رئيس‌جمهور را به معامله‌گری متهم می‌سازد.

آقای قيصاری که از زيردستان جنرال دوستم بود، می‌گويد که حالا معاون نخست رئيس‌جمهور اورا نمی‌گذارد تا به شمال برگردد.

قيصاری در اين باره گفت: «هر روز چند ساعت با مردم؛ با زنان و مردان، وکيلان و اربابان در تماس استيم. برايم می‌گويند چرا به شمال نمی يايی؟ من می‌گويم که چنين مشکلی وجود دارد. او [جنرال دوستم] از من ترسيده».

اين قوماندان خيزش‌های مردمی در ولسوالی قيصار ولايت فارياب، به اتهام نقض حقوق بشر شش ماه در زندان امنيت ملی بود. نظام‌الدين قيصاری می‌گويد که برای پيوستن به تيم انتخاباتی دولت ساز به رهبری اشرف غنی گفت‌وگوهايی را انجام داده‌است. وی افزود: «با بعضی دوستان تماس دارم؛ مشخص مذاکره نکردم، تماس دارم. بلی ما را [تيم انتخاباتی] دولت ساز حمايه می‌کنيم؛ دولت ماست. ما هم حمايت می‌کنيم».

اما، تيم انتخاباتی رئيس‌جمهور غنی و رياست‌جمهوری در اين باره چيزی نمی‌گويند. در همين حال، جنرال دوستم در سخنرانی‌که در ميان سربازانش داشته‌است، تلويحاً به اين گفته‌های قيصاری واکنش نشان داده‌است. آقای دوستم، هرچند از کسی نام نگرفته‌است، اما گفته‌است که اين افراد می‌خواهند خودشان را رهبر بسازند.

## دریځ

### ټاکنې چې د سولې چانس له منځه وړي

حکومتي چارواکي هره ورځ د ټاکنو خبره کوي. کله د ټاکنو لپاره د بودجې د برابرولو، کله په ټاکنو کې د حکومتي چارواکو د نه مداخلې او کله هم د رڼو ټاکنو خبرې کوي.
پرون یو ځل بیا محمد اشرف غني پر ټاکنو ټینګار کړی او ویلي یې دي چې سوله د ټاکنو مانع نه شي کېدلی او ټاکنې به پر وخت کېږي. خو خلک له ټاکنو ستړي دي او غواړي سوله وشي.
حکومت په داسې حال کې پر ټاکنو ټینګار کوي چې هره ورځ ډېر افغانان وژل کېږي او په ټول هېواد کې جګړه زور اخلي. څومره چې جګړه او وژنې زیاتېږي، په همغه کچه خلک پر سوله او سیاسي جوجاړي ټینګار کوي او نه غواړي چې ټاکنې وشي. ټول پوهېږي چې ټاکنې د سولې پر وړاندې خنډ دی او د افغانستان خلک د هر هغه څه مخالف دي چې د سولې پر وړاندې د خنډ سبب کېږي. که څه هم په ارګ کې چارواکي ټاکنې د سولې پر وړاندې خنډ نه ګڼي، خو هر څوک پوهېږي چې په ارګ کې واکمن به د خپل واک د دوام لپاره د اوس په شان د سولې مخالفت وکړي. دوی چې په ناقانونه ډول واکمن دي او فکر کوي چې په درغلیو به بیا ټاکنې وګټي، اوس هم د سولې مخالفت کوي او کله چې د ټاکنو په نامه د یوې پروسې له لارې واک ته راشي، نو بیا به تر اوس ډېر د سولې مخالفت وکړي.
یوازې دا بحث هم نه دی چې ټاکنې د سولې پر وړاندې خنډ دي، بلکې خلک پوهېږي چې د درغلیو، فساد، بې کفایتیو او مسخرو یوه پروسه پرې د ټاکنو په نوم تېرېږي. کله چې پر نیمایي افغانستان وسله وال طالبان واکمن وي، په نیمایي نور کې هم په لوړه او ټیټه کچه امنیتي ستونزې وي، نو ټاکنې به څېرته او څنګه کېږي!؟ کله چې د ټاکنو او ټاکنیزو شکایتونو کمېسیونونه د بې کفایته او مفسدو کسانو مرکز وي، نو څنګه به رڼې ټاکنې وشي؟ کله چې ارګ د کمپاین له پیل وړاندې حکومتي امکانات کاروي، نو څنګه به عادلانه ټاکنې وشي؟ کله چې د ټاکنو کمېسیون په ټولو چارو او آن د عادي مامورینو په مقررۍ کې ارګ لاسوهنه کوي، نو رڼې او عادلانه ټاکنې څه مانا لري!؟
خلک پوهېږي چې راتلونکې ټاکنې د تېرو هغو په شان موږ لا ناوړه حالت ته وړي او بیا چې اوس د سولې چانس شته، نو دغو ټاکنو ته د زهرو په سترګه کتل کېدای شي. له همدې امله خلک نه غواړي د مسخره او چټلو ټاکنو له لارې د سولې چانس ضایع کړي. اوس وخت دی چې موږ د ټاکنو پر ځای پر سوله او سیاسي جوړجاړي ټینګار وکړو. ټاکنې او بیا په داسې حالاتو کې ټاکنې یوازې په افغانستان کې د جګړې، وینې، وحشت او د غلو او خاینانو د واکمنۍ دوام دی. له همدې امله اصلي تمرکز باید پر سوله وشي او موږ باید له روانې جګړې او وحشت څخه ووځو. اوس لومړیتوب سوله دی او بیا چې کله سوله وشي، نو موږ به د ربښتینو، عادلانه، رڼو او سراسري ټاکنو چانس پیدا کړو.



# طالب رهبري په لوی ازمایښت کې

لیکنه: انتظار خادم

په معاصره نړۍ کې هېڅ کورنۍ جګړه افغان جګړې ته ورته نه ده. که څه هم د تاریخ ارزښت په دې کې وي چې له تېرو نه په ګټې اخیستو راتلونکی سمبال کړو، خو له بده مرغه چې افغانان د تاریخ تر دغه جبر لاندې ژوند کوي.
اتلس کاله جګړه وشوه. څنګه وشوه؟ ولې وشوه؟ د چا لخوا وشوه؟ ایا جګړه اوږدول د ټولو اړخونو لپاره اساسي هدف و؟ که نه د جګړې تر شا ځانګړې، ستراتېژیک، سیاسي، عقیدتي او اقتصادي اهداف وو؟ اصلاً کیسه ځرنګه جوړه شوې وه او دا ډرامه څنګه دومره اوږده شوه؟
کله چې زه د جګړې د پېچلیتوب خبره کوم، نو د جګړې فکټورونه، سرچینې، عوامل، ښکېل اړخونه او د غبرګونونو سناریو راته غبرګ سترګو ته ودرېږي.
په کور دننه ناسمه حکومتولي، فساد، جرمي اقتصاد، محرومیت، بېوزلي، بېکاري او انتقام د حکومت پر وړاندې د بلاک جوړېدو دلایل وو. په داسې حال کې چې نړۍ نه د جګړې تعریف درلود او نه یې مشخص هدفونه. شاید همداسې به یې غوښتل. په سیمه کې لوی قدرتونه، لکه: روسیه، هندوستان، پاکستان، چین، ایران او سعودي عربستان تل د زېرزاګ حالت غوره کړی و. نه دغو هېوادونو خپل اخلاقي مسوولیت ادا کړ او نه اسلامي هېوادونه له خدایه وشرمېدل چې ګټوره مداخله یې کړې وای او جګړه یې پای ته رسولې وی.
په هر صورت، یوویشتمه پېړۍ د عاطفو، احساساتو او اخلاقو نړۍ نه ده. د جنګ درد افغان ملت تحمل کاوه، جنګ سالاران نور هم د جنګ په پیسو چاغېدل، امریکا نور هم خپل نظامي مرکزونه لویول او د سیمې هېوادونو په کم مصرف د امریکا پر وړاندې مقاومت جاري ساته.
اتلس کاله وروسته د امریکا سر ته هوښ راغی. د سولې غږ یې وکړ، په داسې حال کې چې جګړه به پای ته رسېږي، خو امریکا به لوی قیمت ادا کوي.
څه موده وړاندې ایران له طالبانو سره د اړیکو اعتراف وکړ. روسانو ویل چې له طالبانو سره سیاسي راشه - درشه لري او چینایان خو اوسمهال په سیمه ییزه خزانه ناست دي. دغه درې هېوادونه اوس یو لاس دي. د امریکا پر وړاندې یو دریځ لري او هغه هم د امریکایي عسکرو د وتلو دریځ.
اوس د طالبانو لپاره لوی ازمېښت دی. د امریکا له افغانستانه وتل یانې په افغان جګړه کې ماتېدل، شرمېدل او سپکېدل دي.
هغه موخې چې امریکا یې په اړه اتلس کاله وړاندې جګړه پیل کړې وه، په لاندې ډول وې:
• تروریزم له منځه وړل، په داسې حال کې چې اوس یو طالب په ۲۱ تروریستي ډلو بدل شوی.
• له نشه یي توکو سره مبارزه؛ که څه هم د ۲۰۰۳ ز کال ۷۰۰۰ هکټاره ځمکه د نشه یي توکو په زیات او کم ۳۷۴۰۰۰ هکټاره ځمکه بدله شوې ده.
• د ښځو حقوق تامینول د امریکا موخه وه؛ که څه هم همدا اوس د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ ۸۵ سلنه افغان ښځې د کورني تاوتریخوالي ښکار دي. هغه څو ګوته په شمېر ښځې چې په رسنیو کې ښکاري، د ټولو افغان ښځو د حالت استازولي نه شي کولی.
• په ملي کچه فقر له ۴۲ سلنې نه ۵۲ او په ځینو سیمو کې تر ۷۹ سلنې پورې لوړ شوی دی. اقتصادي وضعیت ورځ بلې ته خرابېږي.
• همدا اوس اتلس میلیونه ځوانان دي. لس میلیونه یې بېکاره دي. کار نشته او هره ورځ اشتغال په کمېدو دی.
• اقتصادي ریفورم، صعود او ثبات بلکل د بحث وړ نه دی. هره ورځ وینو چې لسګونه پانګوال هېواد پرېږدي او سرمایې وباسي.
• ښه حکومتولي له صفر سره ضرب ده. فساد په سیستم، زړونو، ذهنونو او پروسو کې ننوتی دی. همدا لامل دی چې هره شېبه ټولنیزه او سیاسي بې ثباتي تجربه کوو.
زه وړاندوینه کوم چې طالبان به امریکایانو ته په څو او یا یوې نظامي اډې رضا شي او امریکا، د سیمې موافق هېوادونه او افغان رسنۍ چې له امریکا سره نږدې دي، د عامه ذهنیت په جوړولو کې به کوښښ وکړي او د طالبانو دا دریځ به د حالاتو د قابو کولو لپاره اساسي او منطقي ګام وګڼي.
دا او دې ته ورته نور لسګونه موثق دلایل شته چې د امریکا په راتګ افغانان نور هم در په در او بېوزله شول، نو مانا دا چې امریکا په خپلو موخو کې ناکامه، بدنامه او رسوا شوه.
وتل به یې د مطلقې ناکامۍ په مانا وي. تاریخ به یې په اړه ولیکي، په داسې حال کې چې د طالبانو د جګړې تر شا د اسلامي نظام د ژوندي کولو، له امریکا نه د غچ اخیستلو او حتی د یوه امریکایي عسکر پر وړاندې د مبارزې کولو دلایل موجود وو چې پر اساس یې لا هم جګړه دوام لري.
که طالبان د امریکا نظامي اډې او یا اډه مني، مانا دا چې د خپلو وژل شوو طالبانو په وینو یې معامله وکړه او د خپل سیاسي قدرت د بقا لپاره یې سیاست وکړ، نه ملي مبارزه او عقیدتي تکتیک او که یې نه مني، نو د امریکا په څېر لوی قدرت ناکامېږي، شرمېږي او ورکېږي چې په پایله کې به له طالبانو د بېرته انتقام اخیستو تابیا نیسي.
له بله اړخه چین، روسیه او ایران په هغه صورت کې له طالبانو سره راشه درشه کوي، ملاتړ یې کوي او اقتصادي مرسته یې کوي چې په ګډه امریکا له افغانستانه وباسي. که طالبان امریکایان وباسي، نو له سولې وروسته په لنډمهال کې د اقتصادي فشار او اوږدمهال کې د امریکا پر دښمنۍ اخته کېږي او که یې نه وباسي، نو د چین، روسیې او ایران له سیاسي، ډیپلوماټیک او اقتصادي ملاتړ نه محرومېږي.
کوم عاقل انسان به له دې سترګې پټې کړي چې د امریکا له خوښې پرته پاکستان افغان جګړه تمویل کړي او یا د پاکستان په کړنو امریکا خبره نه وه، بلکې امریکا همدا شان غوښتل.
هر وحشت چې و، خو اتلس کاله و، تېر شو او اوس ټرمپ د ټاکنو لپاره او خلیلزاد د خپل مقام د ساتلو لپاره د سولې پروسه جدي نیولې ده.
خو فرق دا دی چې دوی موقته سوله کوي او که تلپاتې او هر اړخیزه سوله؟
ښاغلي کرزي په لویه جرګه کې هغه مهال د ستراتېژیک تړون د لاسلیک مخنیوی وکړ. وېره یې دا وه چې تړون به لاسلیک کړي، خو جګړه به بیا هم روانه وي، بیا به هم د خلکو ښځې بې عفته کېږي، بیا به هم بمبارونه کېږي، چې هماغه شان وشول.
ایا اوسمهال د سولې په پروسه کې دې اندېښنو ته ځای پرېښودل شوی؟
ایا د دغو اندېښنو د سمبالولو لپاره تابیا شته؟
که نه وي، نو ډېره بده ده او که وي، نو څنګه؟
د سولې په داسې حساسه مرحله کې واشنګټن ته د عمران خان سفر په نېک پال ګڼم. که خبره د سولې وي او په هغې کې د پاکستان نقش حتمي وي، نو بیا حدس دا دی چې امریکا پاکستان ته ډېره اړتیا لري، نه پاکستان امریکا ته.
پاکستان یا په پټه او یا له امریکا سره د ګډ پلان له مخې تېر اتلس کاله له امریکا باج واخیست او له افغانانو تاریخي انتقام.
د عمران او ټرمپ لیده کاته به دوه طرفه جاده وي. ټرمپ له عمران خانه د تروریستانو ځپل او افغان سوله کې ګټور نقش ادا کول غواړي.
په داسې حال کې چې عمران خان به کوښښ کوي چې بیا ځل د امریکا مرستې تر لاسه کړي. نړیوال وجهي صندوق او نړیوال بانک مرستې ورسره ورکړي، په سیمه او نړۍ کې امریکا د پاکستان د سپیناوي او تقدس کمپاین وکړي، د کشمیر په مسئله کې د هندوستان ملاتړ ونه کړي، له سولې وروسته داسې حکومت رانه شي چې د پاکستان د ګټو پر ضد وي او بالاخره که اړتیا شي، د پاکستان په سیاسي کشمکش کې د ټرمپ اداره د عمران خان لاسنیوی وکړي.
که څه هم واشنګټن ته د عمران خان هرکلی ډېر سوړ، توهینوونکی او حیرانوونکی و، خو سیاست دی، څوک پرې نه پوهېږي، ګورو چې وړاندې به څه وي.
د دې ټولې پېچلتیا، سفرونو، خبرو اترو او کوښښونو پایله سوله او د امریکایانو وتل دي.
زه وړاندوینه کوم چې طالبان به امریکایانو ته په څو او یا یوې نظامي اډې رضا شي او امریکا، د سیمې موافق هېوادونه، او افغان رسنۍ چې له امریکا سره نږدې دي، د عامه ذهنیت په جوړولو کې به کوښښ وکړي او د طالبانو دا دریځ به حالاتو د قابو کولو لپاره اساسي او منطقي ګام وګڼي.
که څه هم دا به د طالب رهبرۍ لپاره ستونزمنه پرېکړه وي، شاید د سیمې همکار هېوادونه ترې خپه شي، خو د حالاتو کابو کول، د عامه ذهنیت جوړول، د سیمې هېوادونو پخلا کول او د عامو خلکو شکایتونه سمبالول به طالبان امریکا ته پرېږدي او کله چې عام خلک، څېړونکي او د سیمې هېوادونه طالبانو ته د څو او یا یوې نظامي اډې د ورکولو وړاندیز وکړي، نو بیا به یې طالبان هم ومني.
د اوس لپاره د بد او بدتر تر منځ انتخاب کول دي. فکر کوم چې د اوس لپاره امریکا ته یوه اډه ورکول به ګټوره لاره وي، خو په دې شرط چې له سولې وروسته د امریکایانو د حضور، نقش او بیا په کرار کرار وتلو لپاره منظم پلان تنظیم، منظور او د نړۍ د معتبرو اړخونو لخوا یې تضمین وکړای شي.

## مدني ټولنې: له افغانستان سره د امریکا د ۱۲۰ میلیاردو ډالرو مرستې ډېره برخه د فساد ښکار شوې



په کابل کې د حکومت له لوري د څارنې او همغږۍ بورډ د ۲۲مې ګڼې ناستې له پیل سره سم، د مدني ټولنو ګڼې کاري ډلې هم د حکومت له لوري ملت او نړیوالو ته د حساب ورکونې پر پروسې خپله ارزونه له رسنیو سره شریکه کړې ده.
د افغانستان د روڼتیا څار سازمان یوه غړي ناصر تیموري د یادې ارزونې د شریکولو پر مهال وویل چې له افغانستان سره د نړیوالو لخوا زیاتې مرستې وشوې، خو په مؤثر او ګټور ډول نه دي لګول شوې.
نوموړي وویل: «د امریکا له لوري له افغانستان سره شاوخوا ۱۲۰ میلیارده ډالره مرسته شوې چې د دې مرستې ډېره برخه هدر تللې او هغه هم په دې دلیل چې حکومت سره د دې پیسو د مصرف په برخه کې مشوره نه ده شوې او بل مهم اړخ یې دغه پیسې د هغو کسانو لاسته ورغلې چې په فساد ککړ دي».
د دغې ارزونې پر بنسټ، حکومت ملت ته د حساب ورکونې پر ځای نړیوالو ته لومړیتوب ورکړی چې دغې کړنې د حکومت او ملت ترمنځ واټن زیات کړی دی.
په دغه ارزونه کې دا هم ویل شوي چې په تېر یو کال کې دوې ملي پروسې لکه سوله او ټاکنې چې د خلکو د استازو ونډه باید پکې زیاته وای، نه وې او د حکومتي چارواکو په خوښه مهندسي شوې وې.
په کابل کې د حکومت له لوري د څارنې او همغږۍ بورډ په ۲۲مه ګڼه ناسته کې چې پرون په کابل کې وشوه، د افغان ولسمشر په ګډون، لوړپوړو حکومتي چارواکو، په کابل کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي او د ځینو بهرنیو سفارتونو سفیرانو او د نړیوالو سازمانونو استازو پکې ګډون کړی و.
افغان حکومت په داسې حال کې نړیوالو ته د دوی له لوري د شویو مرستو په اړه حساب ورکوي، چې د مدني ټولنې د کډې کاري ډلې د ارزونې پر بنسټ، فساد او بېوزلي په دغه هېواد کې زیات شوي او د پراختیایي پروژو چارې هم په ټپه دربدلې دي.

# د سعودي پاچا ولې امریکایي سرتېري راوغوښتل؟

لیکنه: عبدالباري عطوان / ژباړه: رشاد

د دوو لاملونو له مخې سعودي موافقه وکړه چې یو ځل بیا امریکایي سرتیري را وغواړي. آیا د حوثي جنگیالیو بالیستیکي توغندیو سعودیان اړ کړل چې د Thaad په نوم دفاعي توغندي راونیسي؟ آیا د پاټریوټ دفاعي سیستم اسطوره له منځه تللې ده؟ ترکیه په حقه ده چې د روسیي S-۴۰۰ دفاعي سیستم یې راونیو؟

په خلیج کې د بل هر وخت په پرتله وضعیت دومره ترینگلی نه و، خبره هغه مهال لا پسې د اندېښنې وړ شوه، چې د تیلو وړونکې بېړۍ ونیول شوې، امریکا او ایران د یوبل بې پیلوټه الوتکې په هرمز تنگي کې را وغورځولې، هماغه وو چې سعودي د یو بد احتمال د پېښېدو له ډاره دوه مهم گامونه پورته کړل:

لومړی: له ۱۹۹۶ ز کال راهیسې دا لومړی ځل دی چې سعودي اعلان وکړ چې د پلازمېنې سویل ختیځ ته نږدې به ۵۰۰ امریکایي سمندري سرتېري د امیر سلطان بن عبدالعزیز په نظامي اډه کې ځای پر ځای شي.

دویم: د امریکا د دفاع وزارت دا اعلامیه او اعلان چې (لوکهیډ مارټن) شرکت په امریکا کې د وسلو جوړولو تر ټولو ستر شرکت هغه قرارداد وگاټه، چې له مخې به یې د ۱،۴۸ میلیاردو ډالرو په اندازه د Thaad دفاعي توغندي پر سعودي عربستان وپلوري.

په دې ترون سره به سعودي عربستان له همدې شرکت څخه د ۳،۳۶ ملیاردو ډالرو په اندازه وسلې او نظامي مهمات رانیسي.

سعودي عربستان اوسمهال په سویل کې د یمن په ختیځ کې د ایران او په ځانگړې توگه د خلیج په اوبو کې له سترو ننگونو او گواښونو سره مخ دی او له همدې کبله یې اوس هغه پرېکړه له پامه غورځولې، چې په ۱۹۹۶ ز کال کې یې کړې وه او ټولې بهرنۍ نظامي اډې یې له خپلې خاورې ویستې وې، ځکه په هماغه کال یو موټر بم برید د امریکایي سمندري ځواکونو یوه اډه په نښه کړه او نږدې ۱۹ سرتیري یې ووژل، چې وروسته بیا دا د (عملیة الخبر) په نامه مشهوره شوه. هغه مهال القاعدې او ځینو مذهبي مشرانو پر سعودي مشرتابه نیوکې کولې، چې د دغو بهرنیو ځواکونو شتون د (الحرمین) له حرمت سره مخالفت لري.

اوس داسې ښکاري چې وضعیت بدل شوی دی، سعودي مشرتابه امریکایي فشار ته تسلیم شوی دی، ځکه اوس په کور دننه امنیتي وضعیت د اندېښنې وړ دی، له امریکا سره د ټینگو اړیکو لېوالتیا ډېره شوې ده، دیني موسسه له منځه تللې ده، هغه پخوانی اغېز یې نشته، د القاعدې گواښ هم نشته، ځکه په افغانستان کې یې مهم مرکزونه له منځه تللي دي.

د سعودي رسمي خبري اژانس (واس) خبر ورکړ، چې پاچا سلمان بن عبدالعزیز موافق دی چې امریکایي سرتیري راشي، څو په گډه د سیمې امنیت ونیسو او دلته ثبات دایمي او باوري شي.

د سعودي عربستان سرچینې وایي: «امریکا د سرتېرو د لېږد غوښتنه کړې وه او ټول لگښتونه به هم د امریکا پر غاړه وي».

دا خبرې تر یوه ځایه کره وې، خو چې سړی د ولسمشر ټرمپ حرص ته گوري، باور نه شي کولای چې امریکا دې په سعودي کې د خپلو سرتېرو لگښت ومني، ځکه نوموړي وار له مخه له عربانو په میلیاردونو ډالر تر لاسه کړي، چې امریکا ستاسې امنیت نیسي، دا معلومه ده چې سعودي عربستان به د دې سرتېرو ټول لگښت مني.

اوس چې سعودي عربستان دThaads دفاعي سیستم چې بالیستیکي توغندي راغورځولی شي، رانیولی دی. مانا یې دا ده چې پاټریوټ هغه چې سعودي پرې میلیاردونه ډالر مصرف کړي دي، له کاره لوېدلې دی؛ ځکه دې سیستم د حوثي جنگیالیو د توغندیو په ځانگړې توگه د کروز مخه ونه شوی نیولی. اوس د هرې ورځې په تېرېدو د حوثي جنگیالیو د توغندیو او بې پیلوټه الوتکو گواښ مخ په ډېرېدو دی.

دا هم د یادونې ده چې د حوثیانو توغندي توانېدلي دي، چې د سعودي عربستان له رادار او دفاعي سیستم څخه تېر شي او خپلو اهدافو ته ځان ورسوي. څو ځلې یې د سعودي عربستان په سویل په ځانگړې توگه په جازان او نجران کې هوایي ډگرونه هم فلج کړي دي، چې د څو ساعتونو لپاره به الوتکو ترې پروازونه نه شوی کولی.

دې نوي پرمختگ د پاټریوټ دفاعي سیستم او د امریکایي رادارونو وړتیا له پوښتنې سره مخ کړې ده، ځکه خو ترکیې پرېکړه وکړه چې د دې سیستم د بدیل په توگه له روسانو S-۴۰۰ توغندي راونیسي.

باور نه شي کېدای چې دا ۵۰۰ امریکایي سرتېري دې په سعودي عربستان کې امنیت او ثبات رامنځته کړي، ځکه شمېر یې ډېر کم دی. امریکا په ۱۹۹۱ ز کال کې له عراق څخه د کویټ د ازادولو په موخه پنځه لکه سرتېري استولي وو، که چېرې د دې سرتېرو له لېږد څخه هدف د ایران پر ضد په جگړه کې گډون وي، دا خو ډېر لږ دي او دا هم کېدای شي چې دا یې پیل وي او وروسته بیا زیات شي.

ځینې شنونکي وایي، د امریکایي سرتېرو د دې لومړنۍ چوپې موخه د سعودي د ځواکونو روزنه او د Thaad دفاعي سیستم څارنه ده. په دې مانا چې په سعودي عربستان کې یې موخه د حوثیانو له توغندیو د سعودیانو ساتل دي.

یوه بله خبره، د امیر سلطان په نظامي اډه کې د امریکایي سرتیرو شتون ځکه د اندېښنې وړ دی، که چېرې جگړه رامنځته شي، ایرانیان به د انتقام په نیت پردې اډې برید وکړي، ځکه اوس په ټولو خلیجي هېوادونو کې امریکایي نظامي اډې شته، چې ایران یې په ډېرې اسانۍ په نښه کولای شي.

اوس پوښتنه دا ده چې دا نظامي اډې به په دې هېوادونو کې امنیت او ثبات وساتلی شي او که نه؟ او لگښت به یې څومره وي؟

# حسین حقاني: طالبان په زور ځان واک ته رسول غواړي، پاکستان یې ملاتړی دی



په امریکا کې د پاکستان پخوانی سفیر وایي، طالبان هڅه کوي چې د امریکایانو له وتلو وروسته ځان په زور واک ته ورسوي.

نوموړي په خپله تازه مرکه کې ویلي چې طالبان پر ټاکنو باور نه لري او ښایي د دې جوگه شي چې په افغانستان کې د پاکستاني استخباراتي ادارو فرمایشونه عملي کړي. حسین حقاني دا څرگندونې د افغانستان له یوه خصوصي ټلوېزیون سره په مرکه کې کړې دي.

حسین حقاني په امریکا کې د پاکستان سفیر و، خو کله چې پوه شو چې هېواد یې په سیمه کې په ورانکاره فعالیتونو لاس پورې کوي، نو د خپل هېواد له ځینو سیاستونو سره یې مخالفت پیل کړ او هماغه وو چې پاکستاني پوځ تر څارنې لاندې ونیو. هغه تر ډېره په افغانستان کې د پاکستان پر سیاستونو نیوکې کوي. تازه یې په یوه مرکه کې ویلي چې طالبان لا هم د پاکستان د استخباراتي ادارو تر ملاتړ لاندې دي او ښایي تر ډېره جگړو ته ادامه ورکړي.

حسین حقاني ویلي، طالبان پر ټاکنو باور نه لري او همدا چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه د وتلو پرېکړه وکړي او دغه هېواد پرېږدي، نو دوی به د زور له لارې واک ته د رسېدو هڅه وکړي. حسین حقاني دا هم وایي چې په دې وخت کې به یې پاکستان ملاتړ وکړي او هڅه به وکړي چې په افغانستان کې د خپلو نیابتي کسانو پر مټ حکومت کنټرول کړي.

هغه له طالبانو سره د امریکا پر روانو خبرو هم نیوکه کړې او وایي چې طالبانو ته یو اړخیز امتیاز ورکوي. د ده په خبره، طالبان په رښتینې توگه سولې ته رسېدل نه غواړي، که یې غوښتی؛ نو اوربند به یې منلی و.

نوموړی وایي: ((امریکا بندیان خوشي کړل، خبرې ورسره کوي، خو طالبانو تر اوسه څه کړي دي؟ جگړې یې شدیدې کړې دي. اوربند نه مني. دوی فکر کوي چې د جگړې له لارې بریالي کېږي. دوی لا هم د افغانستان حکومت په رسمیت نه پېژني. فکر کوم همدا چې امریکایي ځواکونه له افغانستانه ووځي، دوی به د زور له لارې واک ته د رسېدو هڅه وکړي)).

حسین حقاني په افغانستان کې د پاکستان پر سیاستونو هم نیوکه کړې ده. د نوموړي په خبره، که په افغانستان کې سوله وشي یا ونه شي، په دواړو حالتونو کې د پاکستان گټې دي. هغه زیاته کړې چې که سوله راشي، جگړه ختمه شي او دلته د ثبات سبب شي، خو که سوله د جگړې د ختمولو سبب نه شي، نو پاکستان به دوه گټې کړې وي. نوموړی وایي: ((که سوله وشي، خو جگړه ختمه نه شي، امریکایان له افغانستانه ووځي، د دوی له وتلو سره سم به طالبان واک ته د رسېدو کوښښ وکړي. پاکستان به دوه گټې وکړي. یو دا چې د امریکا باور به خپل کړي چې په سوله کې یې همکاري وکړه او بل به په افغانستان کې د خپلو نیابتي جگړه کوونکو پر مټ حکومت کنټرول کړي او خپل ارمان ته به ورسېږي)).

دغه پخوانی پاکستانی ډیپلوماټ وایي، په افغانستان کې هغه مهال جگړه ختمېدلی شي چې د پاکستان د استخباراتي ادارو لاسوهنه بنده شي او دغه هېواد د طالبانو ملاتړ پرېږدي. هغه د افغانستان پر سیاسي څېرو هم دا نیوکه کوي چې ډېر کله په ځینو هېوادونو لکه، چین، روسیه، ایران او هند تکیه کوي. د ده په باور، دا مسایل هم هغه څه دي چې افغانستان ته گټه نه شي رسولی.

حسین حقاني داسې مهال د افغان جگړې او سولې په اړه دغه څرگندونې کوي چې امریکا د سولې روان مذاکرات مثبت بولي او طالبان هم له دغو مذاکراتو راضي دي. افغان حکومت بیا په دې منځ کې اندېښنه لري او وایي، دوی له دې وېره لري چې ښایي د سولې دغه پروسه په افغانستان کې روانه جگړه ختمه نه کړي. دوی وایي، د داسې سولې ملاتړ کوي چې په افغانستان کې ددایمي ثبات او باعزته سولې سبب شي.

# ایران: د درول شوې برېټانوي بېړۍ برخلیک په څېړنو پورې تړلی دی




ایران خبرداری ورکړی چې د خلیج په اوبو کې د برېټانیا د درول شوې بېړۍ برخلیک په څېړنو پورې تړلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې یاده بېړۍ د تېرې جمعې په ورځ له ۲۳ سورلیو سره یوځای د ایران د سپاه‌پاسداران ځواکونو لخوا په هورمز تنگي کې ودرول شوه.

په هغه وېډیو کې چې د سپاه‌پاسداران لخوا خپره شوې، ښیي چې د تېلو په نښانونو رنگ شوې بېړۍ د څو چټکو بېړیو په محاصره کې ده او ځینې پوځیان هم پاس له هلیکوپټرې د پړو په واسطه پکې راکوزېږي.

دغه پېښه څو ورځې وروسته له هغه شوې چې د جبل‌الطارق په ابنا کې د برېټانیا شاهي سمندري پوځ د ایران یوه لویه تېل وړونکې بېړۍ له سورلیو سره یوځای ونیوله.

سپاه‌پاسداران هماغه وخت گواښ کړی و چې د برېټانیا د دغه اقدام په ځواب کې به په هورمز تنگي کې برېټانوي بېړۍ ونیسي.

بل لور ته د برېټانیا لومړۍ وزیرې ترزا مې تېره ورځ په یوه بېړنۍ غونډه کې د ایران له لوري د تېلو د یادې بېړۍ د نیول کېدو پر مسئلې بحث کړی دی.

دغه راز برېټانیا د ملگرو ملتونو امنیت شورا ته په یوه استول شوي لیک کې چې کاپي یې رسنیو ته رسېدلې ویلي، کله چې ایراني ځواکونه دغې کښتۍ ته نږدې شول، هغه د عمان په اوبو کې وه.

د ایران د هورمزگان د بندرونو او د سمندري چارو د اداري مشر الله‌مراد عفیفي پور د ایران دولتي ټلوېزیون ته ویلي چې د دې کښتۍ ټوله ۲۳ عمله په بندر عباس کې مصئونه ده او روغتیایي وضعیت یې هم ډېر ښه دی.

د ایران د سپاه‌پاسداران انقلاب ځواک د جمعې په ورځ ویلي وو چې د استیا ایمپرو د تېلو لېږدوونکې کښتۍ چې د برېټانیا بیرغ پرې ځړېده، په هورمز تنگي کې یې له دې کبله نیولې چې سمندري نړیوال قوانین یې نه وو مراعات کړي.

خو لندن د تهران دغه اقدام غندلی او هغه یې د دښمنۍ یو عمل بللی دی. برېټانیا دغه راز ایران ته خبرداری ورکړی چې که له پاروونکو اقداماتو لاس وانه خلي، پر دغه هېواد به سخت بندیزونه ولگوي.

## د کتــاب خبــرې


# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




پیر روښان په پښتو ژبه کې لومړنی نثر لیکونکی ګڼل کېږي. «خیرالبیان» چې دیني مسائل پکې وړاندې شوي، د نوموړي یو مهم او لومړنی اثر دی. پیر روښان خلک «روحانیت» او «اعتدال» ته ور بلل، وروسته یې یو بل اثر هم د «حالنامه» په نوم ولیکه چې د هغه د ژوند په اړه دی. وروستي دوه اثار یې «مقصود المؤمنین» او «سیرت التوحید» په نومونو دي. له دې اثارو د هغه مذهبي لرلید او سیاسي ژوند ښکاري. میرولي خان محسود چې د پیر روښان په اړه کافي معلومات لري دا پایله لیکي:

د پیر روښان په اند «شیخ کامل» هغه چا ته ویل کېږي چې خلک توحید ته ور بولي او د یوه الله ج عبادت کوي، «شیخ ناقص» هغه چا ته ویل کېږي چې خلک تېر باسي او د یوه الله ج له بندګۍ پرته یې نورو لارو ته هڅوي. له نورو موجوداتو څخه د انسان ښه والی د هغه پوهه او د یوه الله ج پیروي، عبادت او د هغو اعمالو پیروي لکه شریعت، طریقت، حقیقت، قرابت، وصلت، وحدت او سکونت یې وړاندیز کړي وو. د بایزید په اند د الله ج په نزد «خلیفه» د اوامرو تنظیموونکي او پلي کوونکي ته وایي. هغه خلک له بدو کارونو منع کوي، ښو کارونو او سولې ته یې دعوتوي.

د روښانتیا غورځنګ پښتانه څه کم یوه پېړۍ د مغلو پر وړاندې ودرېدل. د پیر روښان کورنۍ مبارزه یوازې فلسفي او تیوریکي نه وه، بلکې د هغه زامنو او لمسیانو د مغلو پر وړاندې په نظامي لیکو کې خدمت کاوه. روښانتیا د یوه معاصر سیاسي سازمان په څېر فعالیت کاوه، له دې لارې به یې خلک د پوهې او ایډیالوژۍ پر برکت مقاومت ته رابلل. دې غورځنګ پښتو لیک دود ته هم دیارلس کره توري ور وپېژندل. دا لیک دود له عربي ژبې سره په ګډه اوس ځانګړې بڼه لري. په دې غورځنګ کې یو شمېر مهم شاعران او لیکوال را پیدا شول.

**سخت دریځه ملا**

روښانتیا هم سرسخت مخالفین او منتقدین لرل چې په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ کې یې د هغوی له منځه یو مخکښ هم «اخوند درویزه» و. هغه هم پښتو نثر لیکي، نوموړی د پیر روښان «مخالف» و او هغه ته به یې «پیر تاریک» وایه. ځینې لاسوندونه داسې دي چې ګڼي د پیر روښان ملاتړ د مغلو د دربار له لوري کېده، له همدې کبله یې د روښانتیا پر وړاندې تبلیغات کول. د اخوند درویزه یوه لیکنه د «مخزن الاسلامي» په نوم یادېږي، دا لیکنه د پښتو مشهور نثر دی چې اسلامي مضامین بیانوي. مخزن الاسلامي اثر د پښتنو علماوو په منځ کې له پېړیو ډېر مشهور او د ارزښت وړ دی، په دې کتاب کې د اسلام د مبارک دین پر احادیثو او فقهي مسائلو بحث شوی.

د روښانتیا غورځنګ د هغه وخت د مذهبي دودونو یوه برخه وه چې اخوند درویزه پرې جدي نقد کاوه. دې مخالفت پر پیر باندې فشار زیات کړی و. د پیر روښان د خیرالبیان اثر په څېر د اخوند درویزه لیکنو هم د اسلام د راتلونکو فلسفو او د پښتني ټولنې د معاصرو غورځنګونو لپاره بنسټونه جوړ کړل. د اخوند درویزه پلویان له پېړیو راهیسې د سني اسلام د مکتب د حنفي مذهب پیرو وو. د درویزه پلویان د مغلو د دربار پلویان وو او د روښانتیا غورځنګ یې سخت مخالف و. حال دا چې «خیرالبیان» پر «روحانیت» او «اعتدال» ټینګار کاوه او «مخزن الاسلام» په ټینګار سره د شریعت پر جدي پلي کېدو تبلیغ کاوه. درویزه پر پیر روښان د کفر ټاپې وهلې او ویل به یې چې د هغه کتابونو ته باید «اور» واچول شي.

دواړو پښتنو لیکوالو داسې مبارزه وکړه چې پېړۍ یې دوام وکړ. پیر روښان د وطنپالنې او منځلارې تصوف لپاره مبارزه وکړه، هغه له عقلي اصالت سره جوړ نه و. اخوند درویزه د یوه ټینګ سني ملا په توګه خپل تبلیغ کاوه. دا اختلاف د یوه دریځ په توګه بیا وروسته تر ډېره وخته د پښتنو په ټولنه کې د اصلاحاتو، پرمختګ، عصریتوب پر وړاندې لوی «خنډ» پاتې شو. دا اغېز دومره ژور شو چې وروسته مذهبي غورځنګونو او وګړو هم ځان پر همدې ډول تعریف کاوه، دې چارې د یوویشتمې پېړۍ تر لومړیو، ۱۹۸۰ز لسیزې پورې هم دوام درلود.

**توریالی شاعر**

خوشال خان خټک د پښتنو د تاریخ یوه ځلانده څېره وه. هغه د خپلو سیالو علماوو له داخلي مخالفت ځان ګوښی ساته. خوشال خان (۱۶۹۱-۱۶۱۳) کال په یوه بډایه پښتنه کورنۍ کې زېږېدلی و، دې کورنۍ د مغلو د دربار له امپراتور شاه جهان سره نږدې اړیکې لرلې. لومړیو کې خوشال خان مغلو کې د یوه قومي مشر په توګه کار کاوه، دا شغل له خپل پلار ور پاتې و. نوموړي ډېر ژر له مغل امپراتور اورنګ زیب سره په ټکر کې راغی چې په ترڅ کې یې هغه اووه کلونه زنداني شو. دې تجربې د هغه پر نړۍ لید مثبت اغېز وکړ، له همدې کبله یې شاعري پیل کړه. هغه د خپل ژوند پاتې برخه له مغلو سره په جګړه کې تېره کړه او د پښتنو د راویښولو لپاره یې مبارزه کوله. هغه مهال چې لوېدیځ اروپایان په ملت پالنه او ملي دولت جوړونه بوخت وو، خوشال خان د پښتنو د وطنپالنې طرحه چمتو کوله. د هغه شعرونو ډېری بیتونه د افغانستان او پاکستان د معاصرو فرهنګ پالو او ملت پالو کسانو له لوري استعمالېږي.

**دوام لري...**

# هنري فورډ

شفیق امیرزی




هنري فورډ امریکایي نوښتګر، تیوریسن او لیکوال و. هغه په ۱۹۰۳ ز کال کې د امریکا د موټر جوړونې د یوې سترې کمپنۍ فورډ کاروبار پیل کړ. هغه د صنعتي تولیدي خط مخترع دی. هغه د لومړي ځل لپاره د ارزان بیه موټرونو د تولید لپاره له دې خط څخه ګټه پورته کړه. هغه نه یوازې چې په اروپایي صنعت کې یې انقلاب راوست، بلکې په امریکا کې یې هم د تولید، کاروبار او نوښتونو یوه نوې لړۍ پیل کړه. هغه خپلو کارکوونکو ته لوړ مزد ورکاوه، سخته پالنه یې کوله، ډېر تولیدات یې لرل چې له دې سره یې د کاروبار، کمپنیو او بازار په برخه کې شته دودونه له منځه یوړل.

فورډ نړیوال لیدلوری درلود. هغه په خپله شاوخوا یا کمپنۍ کې نه و بوخت. ده به ویل چې د تولید پالنې او نړیوالو تقاضاوو ته کتل به ټولې نړۍ ته سوله راولي. همدې لوی فکر له هنري فورډ څخه لوی شخصیت جوړ کړ. همدې نړیوال فکر فورډ هم پر نړیوال نوښتګر او سوداګر بدل کړ. هغه د صنعت په تاریخ کې د نړۍ په تر ټولو شتمن کس مشهور دی. هغه تر مرګ وروسته خپله ټوله شتمني فورډ خیریه بنسټ ته وسپارله. له دې سره یې کارونه داسې تنظیم کړل، چې کورنۍ وکولی شي په دغه بنسټ کې لګښتونه کنټرول کړي او څارنه ورباندې ولري. مخکې مو هم وویل چې فورډ یوازې تر صنعت او تجارت محدود پاتې نه شو، بلکې د نړۍ په کچه تکړه تیوریسن او ځیرک لیکوال هم و.

هغه په جګړو کې د امریکا پر حضور سختې نیوکې کولې. په دویمه نړیواله جګړه کې د امریکا له ګډون سره د هنري فورډ مخالفت خورا مشهور دی. فورډ یوه بله عجیبه مفکوره هم درلوده. ده په لومړي سر کې ټول تور موټر جوړول، ده به ویل، هر څوک کولی شي د خپلې خوښې رنګ موټر ولري، خو تر هغه چې دا رنګ تور وي. په دې مانا چې د نوموړي کمپنۍ یوازې او یوازې تور رنګه موټر تولیدول او دا یې د ټولو لپاره د خوښې رنګ باله، خو وروسته یې ټي موډل موټر تولید کړل، چې په هغه کې سور رنګي موټرونه هم وو.

هنري فورډ د ۱۸۶۳ ز کال د جولای په ۳۰مه زېږېدلی دی. هغه په کرینفیلډ کې په یوه مزرعه کې سترګې نړۍ ته غړولې دي او پلار یې ویلیام فورډ نومېده. د دوی اصلیت د انګلستان غرب ته ورګرځي. مور یې ماري لیتوګت فورډ نومېده. دا بیا له بیلژیکي کورنۍ وه. فورډ دوه وروڼه او دوې خویندې لرلې. فورډ له میکانیکي توکو سره خورا ډېره مینه لرله. ده به ټوله ورځ په ښوونځي کې ساعتونه خلاصول او تړل. په پنځلس کلنۍ کې یې د ټولو ګاونډیانو خراب ساعتونه ورته جوړول او دوی به هم خپل خراب شوي ساعتونه تر فورډه رسول. په ۱۸۷٦ ز کال کې یې مور مړه شوه. دا غم ورته دروند و. د مور له مړینې سره هغه خپل سکون بایلود. پلار یې له ده تمه درلوده، چې د هغه کرونده وپالي او چارې یې سمبال کړي. خو فورډ له کروندو او زراعته کرکه درلوده.

د نړۍ لومړنی موټر په فورډ کمپنۍ کې جوړ شوی دی. دا شرکت په ۱۹۰۳ ز کال کې جوړ شوی دی. خو د دې شرکت تر جوړېدو اووه کاله مخکې د همدې شرکت بنسټ ایښودونکي خلاق هنري فورډ د نړۍ لومړنۍ څلور ټایره وسیله جوړه کړې وه.

ځوان فورډ د خپلې دغې وسیلې تر جوړولو پنځه کاله مخکې یانې په ۱۸۹۱ ز کال کې د ادیسون په شرکت کې په دتیرویت کې کار کاوه، دوه کاله وروسته د انجنیرانو مشر شو، دومره پیسې وګټلې چې وروسته یې له خپلو تجربو په استفادې دا وړتیا پیدا کړه چې په یاد صنعت کې پخپله د یوه کار څښتن شي.

کله چې په ۱۹۰۳ ز کال کې فورډ خپله ۲۸ زره ډالره پانګه را واخیسته او له ۱۱ نورو کسانو سره شریک شو، په مشیګان ایالت کې یې یوه هوکړه لاسلیک کړه، په همدې سره د فورډ شرکت رامنځ ته شو، تر یوې میاشتې یې لږ وخت و نیو چې د دوی د شرکت موټر پر یوه ډاکټر وپلورل شو.

په ۱۹۱۴ ز کال کې د دغې شرکت د کار کوونکو شمېر ۱۳ زرو تنو ته رسېده، دوی په دې وخت کې درې لکه موټر تولید کړي وو، په هغه وخت کې د موټر جوړولو ټولو ۲۹۹ شرکتونو په ګډه د ٦٦٣٥٠ کارکوونکو په درلودو یوازې د نړۍ دوه لکه او اتیا زره موټر تولید کړي وو.

په ۱۹۱۸ ز کال کې د امریکا نیمایي موټر فورډ ټي موډل و، په ۱۹۲۲ ز کال کې یاد شرکت یو میلیون ټي موډل فورډ موټرونه تولید کړل، چې دا نو په یوازې ځان د نړۍ د موټرونو ٥٦ سلنه وه. دا شمېره ورځ تر بلې زیاتېده. فورډ کمپنۍ هر کال دوه مېلیونه ټي موډل فورډ موټرونه تولیدول.

په ۱۹۱۹ ز کال کې فورډ او زوی یې ادسل غوښتل شرکت پراخ کړي، خو په دې برخه کې د خپلو شریکانو له خنډونو سره مخ وو، نو دوی اړ شول چې د ټولو شریکانو سهام واخلي، په همدې کال کې هنري فورډ د شرکت ټول مدیریت خپل زوی ادسل ته وسپاره.

ادسل فورډ د خپل پلار خلاف چې د میکانیک انجنیر او مینوال و، ادسل بیا د طراحۍ مینوال و، هغه به پر دې ټینګار کاوه چې که د موټر طراحي ښه وه، مینوال به یې ډېر وي. نوموړي په ۱۹۳۳ ز کال کې د طراحۍ لپاره یوه ځانګړې برخه پرانیسته، د دوی د کار ګټه د نویو طراحیو جوړول وو، په ۱۹۴۳ ز کال کې د فورډ زوی ادسل فورډ چې له ۱۹۱۹ ز کال راهیسې د شرکت رییس و، ومړ او هنري فورډ د دویم ځل لپاره د فورډ کمپنۍ ریاست ته را وګرځېد.

وروسته له دې چې کارونه یې خپل لمسي او د ادسل زوی ته برابر کړل، هغه یې د دې شرکت مشر وټاکه، دا نو په دویم هنري فورډ مشهور و، هغه تر ۱۹۷۹ ز کال پورې په بریالۍ توګه د فورډ شرکت مدیریت کړ، دی نو د یوه پیاوړي او قدرتمند مدیر په توګه صحنې ته راغی، دی هم اته کاله وروسته له دې چې د فورډ کمپنۍ ریاست یې وکړ، ومړ.

وروسته له دې چې دویم هنري فورډ ومړ، د ورور زوی یې بیل فورډ د شرکت رییس شو، نوموړي چې کله د نړۍ د موټرو د حرکت مسیر او اړتیا ولیده، نو کمپنۍ یې هغه لوري ته هدایت کړه، په ۱۹۹۸ ز کال کې فورډ لومړنی شرکت و چې ایزو ۱۴۰۰۱ سند یې د دې لپاره وګاټه چې چاپېریال ساتنې ته یې پام کړی و.

په ټوله کې فورډ کمپنۍ د هنر فورډ د فکر محصول ده، طراحي، تولیدات د کمپنیو په خپل منځ کې سره تړل، ښه مدیریت او د موټرونو ښه کیفیت دا هر څه له هنري فورډه د کمپنۍ نورو مدیرانو ته په میراث پاتې وو.

فورډ شرکت له تاسیس تر دې دمه خپل موټرونه په نهو برنډونو کې بازار ته وړاندې کړي دي. فورډ، لینکلن، مرکوري، جګوار، استون مارتین، مزدا، ولوو، لندرور، رنجر او ادسل دا هغه برنډونه دي چې فورډ کمپنۍ یې تولیدوي.

فورډ په ۱۹۱۴ ز کال کې ټول امریکایي شرکتونه حیران کړل. ده ویل چې خپل هر کارکوونکي ته د ورځې پنځه ډالره معاش ورکوي. هغه وخت پنځه ډالره معاش د اوس له ۱۵۰ ډالره سره برابر دی. دا په هغه وخت کې د نورو کمپنیو تر درې برابره معاش هم لوړ معاش و. په دې توګه فورډ بریالی شو، چې د هغه وخت د کمپنیو تر ټولو تکړه او مهم کسان له ځان سره ونیسي. دا کار د تولید د ډېرېدو او ښو کارکوونکو د ګومارل کېدو سبب شو. فورډ یوازې معاش لوړ نه کړ، بلکې کاري ساعتونه یې هم راکم کړل او پر دې باور و چې لږ کاري فشار د ډېر خلاقیت سبب ګرځي.

فورډ هغو کسانو ته په خپله کمپنۍ کې سهام ورکړل، چې دوی د لوړ استعداد خاوندان وو. په دې مانا چې دوی یې په کمپنۍ کې په یوه معلومه سلنه شریکان کړل. هغه د خپلې کمپنۍ مدیریت په سمه توګه کاوه، اخلاقي مسایل یې جدي نیول او ټولو ټولنیزو سرحدونو ته یې درناوی درلود. هغه په خپله کمپنۍ کې د ټولنیزو فعالیتونو په نامه ځانګړې برخه جوړه کړې وه چې هغه مهال یې پنځوس کارکوونکي درلودل. دوی به د کمپنۍ د کارکوونکو اخلاقي مسایل څېړل او قوانین یې وضع کول. دا قوانین تر ډېره پر هغو کسانو عملي کېدل چې غوښتل یې د فورډ کمپنۍ غړیتوب او یا ونډه ولري.

فورډ د جګړې مخالف هم و. هغه د جګړې پر ضد سختې او تونديې څرګندونې او لیکنې کولې. ده پر هغو کسانو هم سختې نیوکې کولې چې په لومړۍ نړیواله جګړه کې یې له جګړې سره مالي مرسته کوله. په ۱۹۱۵ ز کال کې یې عملاً د هغو کسانو پر ضد فعالیتونه پیل کړل چې د جګړې مالي ملاتړ یې کاوه.

فورډ په دویمه نړیواله جګړه کې هم سخت د جګړې خلاف و. ده به ویل، جګړه هغو شتمنو روانه کړې چې د بشریت په ختمولو پسې دي. ده به ویل، شتمن کسان د هېوادونو ترمنځ د نښتو او جګړو لپاره توطیې جوړوي او په دې توګه غواړي ملتونه تبا کړي. هغه به ویل، په دې جګړه کې لوی لاس د یهودانو دی، لومړۍ نړیواله جګړه یهودیانو پیل کړې وه او له فرانکلن یې هم ځکه نفرت درلود چې له نازي المان سره یې سوداګري کوله.

فورډ د ډېربورن اینډپنډنټ په نامه نشریه جوړه کړه. په دې نشریه کې یې تر ډېره تورپوستي پر دنده وګومارل او په دې توګه یې ثابته کړه چې نژادي مسایل ورته مطرح نه دي. هغه په دې نشریه کې د یهودانو ضد لیکنې کولې. هنري فورډ د یهودانو پر ضد لسګونه مقالې لیکلې دي. هغه سره له دې چې د یهودانو پر ضد لیکنې کولې، خو ویل به یې چې له دوی سره د تاوتریخوالي ملاتړی هم نه دی. فورډ یوازینی امریکایی دی چې هټلر په خپل کتاب کې د هغه یادونه کړې ده او وایي، فورډ یوازینی مستقل امریکایی دی. بالاخره دغه امریکایي خلاق مدیر په ۱۹۴۷ز کال کې د ۸۳ کلونو په عمر له دې نړۍ ځي. هغه ځي، خو یوه ستره کمپنۍ چې نن هم زرګونه کسان کار ورسره کوي، تر شا پرېږدي او له خدماتو یې ټوله نړۍ ګټه پورته کوي.

همیانی

# د مغز د پیاوړتیا لپاره د ورځې لنډ خوب گټه لري

ژباړه: نسیمه محمدي

موږ ټول په ځانگړې توگه که مور او پلار اوسو، پوهېږو چې ماشومان د ورځې خوب ته اړتیا لري. د دغه خوب لپاه یو معلوم وخت تاکل کولای شي سترېا له منځه یوسي، ماشومان د نوو ځوانانو په پرتله ډېر زیات خوب ته اړتیا لري. د نوو ځوانانو د بدن د اړتیا وړ خوب اندازه له ۷ څخه تر ۹ ساعتونو پورې د شپې ده، خو له بده مرغه د اوسنۍ موډرنې نړۍ ډېری خلک له دې اندازې کم ویده کېږي، چې په دې مطلب کې د خوب کولو گټو او غوره وخت ته اشاره شوې، له موږ سره اوسئ.

**د خوب ارزښت**

خوب د بدن په عمومي سلامتیا کې حیاتي رول او د حجرو په بېرته رغېدو او جوړښت کې مهمه ونډه لري. خوب هم له جسمي او هم له ذهني پلوه د ناروغۍ او خپگان په وخت کې د بدن د کمزورې کچې له کمولو سره مرسته کولای شي، نو کولای شو له خوب وروسته آرام ویښ شو. کم خوب یا نیم خوب کول، د بدن دفاعي سیستم گډوډوي او له بل پلوه د (T) حجرې له منځه وړي. کافي خوب د بدن د ځانگړې دفاعي ځواک د له منځه وړلو، د زړه د سلامتیا ډېرښت او د سترېا په کمولو کې مرسته کوي او پر میتابولېزم او د وگړو پر وزن اغېز کوي.

په بشپړه توگه لیدل کېږي چې زموږ بدن کافي خوب ته اړتیا لري. د بدن د بشپړې سلامتیا لپاره پوره خوب لومړیتوب دی. البته ځینې وختونه تنبل کسان له دې موضوع سوء استفاده کوي، چې زموږ هدف دا نه دی. په حقیقت کې د خوب مناسبه اندازه زموږ د بدن له ښه فعالیت سره مرسته کوي.

په هغو څېړنو کې چې د انسان په بدن تر سره کېږي، انسان هغو موضوعاتو ته لاسرسی پیدا کوي چې کله د ورځې په اوږدو کې بشپړ خوب ونه لري څه پېښېږي، دا اغېز دومره دی چې نشو کولای پرته له مناسبې اندازې څخه یې ژوند وکړو.

**د ورځې لنډ خوب کول گټې لري**

حتماً مو د خوب گټې د خپلې شاوخوا په خلکو کې لیدلې، هېڅ اړتیا نشته چې علم موږ ته ووایي چې د ورځې په جریان کې د ډېرو چارو تر سره کولو وروسته یو نرم او گرم ځای د خوب کولو لپاره ولرې او مغز مو مساج کړئ، خو نه غواړو چې زموږ لاربښوونې له لاسه ورکړئ چې د یوه ښېرازه ژوند په لرلو کې مرسته درسره کوي، چې د ژوند محدودیتونه مو له منځه یوسی او پرې برلاسي شئ. که د شپې د اړتیا وړ خوب ونه لرئ، د ورځې په اوږدو کې یو لنډ خوب کولای شي ستاسې ځیرکتیا زیاته کړي، لنډ خوب ستاسې له منطق او عکس‌العمل سره هم مرسته کوي او حوصله مو لوړوي.

**د لنډ ورځني خوب وخت څومره دی؟**

پوښتنه دا ده چې څومره باید ویده شو؟ البته د خوب کولو وخت ستاسې په وخت پورې اړه لري. که مو مصروفه ورځ تېره کړې وي، له ۱۵ تر ۲۰ دقیقو خوب کولای شي تاسې ته آرامي درکړي. که د سترېا او خفگان احساس لری او فکر کوی چې د مطالبو د بیا یادولو اړتیا لری، حتماً باید ٦۰ دقیقې لنډ خوب وکړئ، څو مو مغز بیا فعال شي. ځینې څېړنې ښیي چې کم ویده کېدل د حافظې د یادښت پر برخه هم اغېز کوي.

که له حده زیات سترې یاستی او بیا رغېدو ته ضرورت لری، ۹۰ دقیقې خوب کول د حافظې د نوښت لپاره، د اطلاعاتو او له احساساتي غبرگونونو سره مرسته کوي او کم خوبي له منځه وړي. دوکتورس سارا مدنیک د PhD مدرک سره، پر دې باور ده چې ۹۰ دقیقې خوب کولای شي د اته ساعته شپني خوب په اندازه گټه ولري.

**اوس چې د ورځني خوب کولو اندازه مو وپېژنده، باید وخت یې معلوم کړو؟**

ځانگړی وخت تقریباً په دې پورې اړه لري چې تاسې د سهار وختي پاڅېدونکو له ډلې څخه یاستی، که شپه په ویښه سبا کوی؟

هغو کسانو ته چې سهار ژر ویښېږي، د ورځې یوه بجه تر ټولو غوره وخت دی. هغو ته چې د شپې تر ډېره ویښ وي د ورځې ۳ بجې مناسب وخت دی. پام مو وي چې له څلورو یا څلورو نیم ساعتونو ډېر ویده نه شئ، ځکه امکان لري چې د شپې د خوب له ستونزو سره مخ شی. په منظم ډول خوب کول په شخص کې خپگان کموي او له همدې امله د زړه حملې د زړه ناروغۍ او د وزن په کنټرول کې هم مرسته کوي.

**د چرت وهلو لپاره اضافي لارې چارې**

آیا اړتیا لری چې له خوب وروسته ډېر ژر فعال او اصلي حالت ته راوگرځی؟ له ۲۰ تر ۳۰ دقیقو مخکې له ویده کېدو څخه قهوه وڅښئ او کله چې ویښ شوی، وبه وینی چې کافیین خپل فعالیت پیل کړی دی.

په دې برخه کې د هوسا خوب کولو لپاره ځینې لارې چارې په لاندې ډول دي:

۱: چاپېریال تر خپلې وسې تیاره کړئ
۲: حتماً له ملایم او تود پټو گټه واخلئ
۳: بدن لږ څه وغځوئ
۴: که خوب درنه غلو، اندېښنه مه کوئ، استراحت د بیدارۍ په حالت کې هم گټه لري

**وروستۍ خبرې**

اوس د خوب کولو تر ټولو غوره وخت پېژنی او پوه شوی چې د ورځې په اوږدو کې خوب تاسې ته کومې گټې لري؟ څه سهار وختي ویښېږی او یا څه هم د شپې تر ډېره ویښ پاتې کېږی، خو د خپل بدن د ښه کار کولو لپاره د ورځې لخوا لنډ خوب کولو ته اړتیا لری.

## معترضان: که په میدان وردگو کې د ملکیانو وژنه ونه درول شي، له حکومت سره به پرېکون وکړو

د میدان وردگو اوسېدونکي گواښ کوي چې که په دغه ولایت کې د ملکي خلکو د وژلو لړۍ ژر ونه درول شي، له دولت سره به پرېکون وکړي او لویې لارې به د ترافیکو پرمخ وتړي.

د دغه ولایت لسگونو اوسېدونکو او زیانمنو شویو کسانو پرون په داسې حال کې په کابل کې اعتراضیه غونډه وکړه، چې په دې وروستیو کې په دغه ولایت کې د دولتي ځواکونو په بریدونو کې ملکي وگړو ته درنه مرگ ژوبله اوښتې ده.



منصور عاصم چې د نورو په استازیتوب یې خبرې کولې، ویلي چې په دې وروستیو څو میاشتو کې په دغه ولایت کې نږدې هر ورځ په شپنیو عملیاتو، چاپو او بمباریو کې ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوړي او نور یې زغم د خلکو له وس وتلی دی.

هغه زیاته کړې: «سیمه ییز چارواکي دې د وحشت د توجیه کولو او د حقیقت د تحریفولو هڅه نه کوي، زموږ ښځو ماشومانو او نورو بې گناه شهیدانو ته دې طالب او طالب قوماندان او ترهگر نه وایي».

هغه پر وسله والو طالبانو هم غږ کړی چې له کلیو او بانډو دې جگړه وباسي، څو خلک په ارامۍ ژوند وکړي.

د میدان وردگو د ولایتي شورا رییس اخترمحمد طاهري په یاده غونډه کې ویلي چې د دغه ولایت هر کور او هر کلی د جگړو او چاپو د وحشتونو ښې لري او خلک نور له ژونده سترې شوي دي.

نوموړي زیاته کړې: «نور خلک د روغتونونو او ښوونځیو جوړولو په فکر کې دي، خو د میدان وردگو ولایت اوسېدنکي د جگړو د قربانیانو د ویر پر ټغر ناست دي».

هغه ویلي، دوی څو ځله په میدان وردگو کې له شپنیو عملیاتو او چاپو، حکومتي چارواکو او ان ولسمشرۍ ماڼۍ او امنیت شورا ته شکایت کړی، خو نه یوازې دا چې مخه یې نه ده نیول شوې، بلکې ورځ تر بلې دا وحشت زیات شوی دی.

په دغه غونډه کې د جگړې د قربانیانو نږدې کسانو هم گډون کړی و او له حکومته یې وغوښتل چې په دغه ولایت کې روان وحشت ژر تر ژره پای ته ورسوي.

د دغه ولایت د جلرېز ولسوالۍ په شپنیو عملیاتو کې د یوه وژل شوي تن ورور عبدالمتین ویلي چې پنځه ورځې مخکې صفر یو قطعې د ده د ورور پر کور چاپه ووهله او هغه یې وواژه.

هغه ویلي: «وروسته د وژلو یې مړی له ځان سره وړی و، مازدیگر زنگ راغی چې راشی د امنیت روغتون څخه مو مړی دروړی».

د دغه ولایت د جغتو ولسوالۍ یوه اوسېدونکي مسیح الله ویلي چې شاوخوا لس میاشتې مخکې دولتي ځواکونو د ده پر کور د شپې چاپه ووهله، د ښځې او ماشومانو په گډون یې د ده د کورنۍ ۱۲ غړي ووژل چې ټول بېگناه وو.

د غونډې گډونوالو ویلي چې که په میدان وردگو کې د ملکي وگړو د وژلو لړۍ ونه درول شي، د دغه ولایت اوسېدونکي به له دولت سره پرېکون وکړي او په را روانو ټاکنو کې به برخه وانه خلي.

## اسلامي کنفرانس: په افغانستان کې ډېرېدونکي تاوتریخوالي اندېښمن کړي یو

د اسلامي هېوادونو د همکاریو سازمان په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر زیاتېدو اندېښنه ښودلې ده.

د سعودي عربستان په جده ښار کې د دغه سازمان د (اسلامي کنفرانس) له ځایه په خپره شوې خبرپاڼه کې د دغه سازمان سکرتر جنرال ډاکټر یوسف العثیمین ویلي، چې د افغانستان په وروستیو ځانمرگو بریدونو او نورو امنیتي پېښو کې ملکي وگړو ته درنه مرگ ژوبل اوښتې ده.

نوموړي د تاوتریخوالي پر زیاتېدو د ژورې اندېښنې څرگندولو ترڅنگ غوښتنه کړې، چې ژر تر ژره دې دا تاوتریخوالی کم کړای شي.

د اسلامي کنفرانس سکرتر جنرال له ټولو افغان اړخونو غوښتي چې خپلې ټولې هڅې د سولې لپاره پر کار واچوي .

د هغه په خبره، د سولې دا هڅې باید د افغانانو په مشرۍ او مالکیت تر سره شي، چې د تېرې روژې میاشتې د اسلامي کنفرانس په سرمشریزه غونډه کې یې هم ملاتړ شوی دی.

ډاکتر عثیمین دغه راز ویلي چې تېر کال په مکه کې د نړۍ د علماوو په غونډه کې د افغانستان د سولې پروسې ملاتړ شوی و.

د اسلامي هېوادونو د همکاریو سازمان داسې مهال په افغانستان کې د تاوتریخوالي پر ډېرېدو اندېښنه ښودلې، چې په دې وروستیو کې په دغه هېواد کې د سولې د روانو خبرو ترڅنگ، جگړې هم زور اخیستی چې هره ورځ پکې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبله اوړي. د دغو جگړو ډېری قربانیان ملکي وگړي دي چې په کور دننه او نړیواله کچه یې هم د ځینو بنسټونو اندېښنې راپارولې دي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې ملگرو ملتونو د ملکي مرگ ژوبله په تړاو راپور خپور کړ، چې پکې د ملکیانو پر تلفاتو ژوره اندېښنه ښودل شوې وه.

اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۹۵ |
| € | ۸۹,۷۰ |
| Rp. | ۵۰۳ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹ |

**پروازونه**

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

**بیړنۍ شمیرې**

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily





المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.


سه شنبه د ۱۳۹۸ د زمري لومړی | د ۲۰۱۹ د جولای ۲۳مه | دریم کال | ۴۰۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | ۳۹ | ٤۳ | ٤۲ | ٤۱ | ٤۱ |
| ۲۱ | ۲۳ | ۲٥ | ۲۹ | ۳۰ | ۲۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۸ | لمر ختل ۰٤:٥٦ | ماسپښين ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۳:٤٦ | ماښام ۰۷:۰٤ | ماخوستن ۰۸:٤۳

## نړۍ



# ایران: د درول شوي بریتانوي بېړۍ برخلیک په څېړنو پورې تړلی دی

۳

## ترکیه: که واشنګټن پر انقرې بندیزونه ولګوي، په ځواب کې به يې اينجرليک پوځي اډه وتړو



د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر خبرداری ورکړی، چې که واشنګټن پر دغه هېواد بندیزونه ولګوي، ناوړه پایلې به ولري.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مولود چاوش اوغلو دغه راز ټینګار کړی چې د امریکا هر اقدام ته به ورته ځواب ووايي.


نوموړي دغه راز ویلي، که متحده ایالتونه په دې تکل کې وي چې پر ترکیه بندیزونه ولګوي، دوی به یې په ځواب کې په ترکیه کې د اینجرلیک په نوم د امریکا د پوځ تر ټولو لویه اډه وتړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې امریکا ترکیې ته خبرداری ورکړی و، که له روسیې سره د ایس- ۴۰۰ توغندیو دفاعي سیستم د پېرلو هوکړه لغوه نه کړي، پر دغه هېواد به بندیزونه ولګول شي. خو د امریکا له دغو خبرداریو سره سره، ترکیې په دې وروستیو کې له روسیې د یاد سیستم د لېږد چارې پیل کړې، چې لومړۍ جوپه یې څه موده وړاندې دغه هېواد ته ورسېده.

اوغلو د دغه هېواد له آر.جي.آر. تي تلوېزیون سره په ځانګړې مرکه کې ویلي: «که متحده ایالتونه بندیزونه ولګوي، ترکیه به په ورته اقدام لاس پورې کړي. که ستونزه لویه شي، ښايي په ترکیه کې د اینجرلیک په نوم امریکايي پوځي اډه هم وتړل شي».

نوموړي دغه راز ویلي چې ترکیه هیله لري چې متحده ایالتونه د شوې هوکړې له مخې دغه هېواد د ایف-۳۵ جنګي الوتکو د لېږد چارې هم پیل کړي، خو که داسې نه وي، نو بېرته دې دغه هېواد خپلې پیسې ورکړل شي.

## په سوریه کې دولتي ځواکونو بیا لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



د سوریې په شمال لوېدیځه سیمه کې د دغه هېواد د پوځ په هوايي بریدونو کې لږ تر لږه ۱۰ تنه وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي.

د راپورونو له مخې، بریدونه په هغه سیمه کې شوي چې د بشارالاسد د رژیم د مخالفو ډلو تر کنټرول لاندې ده.

د سوریې د بشري حقونو لندن مېشتې ډله ویلي چې دغه بریدونه د سوریې په شمال لوېدیځه سیمه کفروما کې شوي دي او لسګونو کسانو ته یکې مرګ ژوبله اوښتې ده.

بلخوا د سوریې دولتي خبري اژانس ویلي چې د دغه هېواد پوځ په یاده سیمه کې د تندلارو د یوې حملې مخه نیولې او دوی ته یې درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

د سوریې د بشري حقونو لندن مېشتې ډلې ویلي چې په کفروما سیمه کې د سوریې د پوځ په هوايي بریدونو کې د یوه ماشوم په ګډون، شپږ تنه وژل شوي او ډېر نور ټپیان دي.

د دغې ډلې په خبره، په خان شیخون سیمه کې هم د روسیې د هوايي بریدونو له کبله د ملکیانو د دفاعي ډلې د پوځیانو یو غړی وژل شوی دی.

د سوریې دولتي رسنیو همدا راز راپور ورکړی چې د پالمیرا ښار په ختیځ کې د کېمیاوي موادو وړونکې رېل ګاډي د ماین د چاودنې له امله له پټلۍ اوښتی او ځینې سورلۍ یې ژوبلې شوې دي.

## ادارهٔ اسکان بشر ملل متحد، افغانستان را در سروی و ثبت ملکیت‌ها کمک میکند



رئیس اجرایی ادارهٔ اسکان بشر ملل متحد می‌گوید که این اداره، حکومت افغانستان را در برنامه‌هایی چون «شهر برای همه» سروی و ثبت ملکیت‌ها و توزیع سند ملکیت، به خانه‌های غیرپلانی کمک میکند.

میمونه محمد شریف رئیس اجرایی اداره اسکان بشر ملل متحد، دیروز در چهارم و آخرین روز سفر خود به کابل به خبرنگاران گفت، خرسند است که برای اولین بار به افغانستان سفر نموده و در مورد همکاری‌های ستراتیژیک، با حکومت و مردم افغانستان گفت‌وگو کرده است.

او افزود که اداره اسکان بشر ملل متحد که حکومت و مردم افغانستان را در بازسازی اجتماعی و فزیکی همکاری می‌نماید، بیشتر از دو دهه در افغانستان فعالیت دارد.

وی گفت که در جریان سفر خود، با رئیس جمهور محمد اشرف غنی و برخی مقام‌های دیگر افغان ملاقات نموده و در این ملاقات‌ها روی مسائلی چون اهمیت ستراتیژیک شهرنشینی، ایجاد فرصت‌های کاری، رفاه، انکشاف و صلح بحث‌هایی داشته است.


او شهر نشینی یا شهرسازی غیرپلانی را یکی از چالش‌های قابل توجه در جهان خواند و گفت که در این ملاقات‌ها، روی این موضوع نیز با مقام‌های افغان گفت‌وگو نموده است.

او افزود: «اداره اسکان بشر ملل متحد، از اصلاحات حکومت افغانستان در بخش زمین پشتبانی میکند؛ به خصوص ثبت و راجستر ملکیت‌های غیر پلانی و اختصاص زمین دولتی برای بیجاشده گان داخلی و مهاجرین که به کشور برگشت میکنند».

وی خاطر نشان کرد که اداره اسکان بشر ملل متحد، در برنامه‌های کلیدی چون «شهر برای همه» سروی و ثبت ملکیت‌ها در دوازده شهر افغانستان و توزیع سند ملکیت به خانه‌های غیرپلانی، کمک تخنیکی میکند.

## ژوند


## په اوړي کې دغه خواړه ډېر وخورئ!



په اوړي کې که څه هم خپل موسمي خواړه وي، خو دلته موږ تاسې ته ۱۲ هغه خواړه ښیو، چې ستاسې د وجود معافیتي سیستم قوي کوي، د وجود په زیات خولې کېدو سربېره، د پوستکي په ګډون د ډېرو نورو ناروغیو مخنیوی هم کوي.

۱- مستې: د خوراک غوره وخت یې غرمه دی
۲- شرومبې (تروې): د خوراک غوره وخت یې سهار او ځانښت دی
۳- د لیمو اوبه: ځانښت یې د خوراک تر ټولو ښه وخت دی
۴- بادرنګ: د غرمې له ډوډۍ سره
۵- رومیان: د غرمې له ډوډۍ سره
٦- ام یا د ام جوس: سهار له وخته او یا هم ماسپښین
۷- هندوانه: سهار او ماسپښین
۸- د وېلنې (نعناع) پاڼې
۹- شیدې چې لږ سړې شوې وي له ویده کېدو مخکې وڅښل شي
۱۰- د کوپرې اوبه
۱۱- د ګنې شربت
۱۲- خټکی یا خربوزه

## د ویټامین بي ۱۲ کمښت مو پر ژور خپګان اخته کوي




کوبالامین یا ویټامین بي ۱۲ په اوبو کې منحل ویټامین دی چې کمښت یې د مغز او اعصابو د اختلال لامل ګرځي.

ډاکټران وايي چې دا ویټامین له خولې نیولې تر کولمو په بدن کې جذبېږي او د جذب په هر پړاو کې د ستونزې رامنځته کېدل په بدن کې د دغه ویټامین د کمښت لامل ګرځي.

ډاکټران پر دې باور دي چې د ډېر وخت لپاره د دغه ویټامین کمښت د عصبي حجرو د پوښ د بدلون سبب ګرځي، چې د دې ویټامین په کمښت اخته کس په حواسو کې اختلال رامنځته کېږي او اعصاب یې ناآرامه کېږي. له دې سربېره، د بدن ځواک او ظرفیت یې هم کمېږي.

دوی وايي، د ویټامین بي ۱۲ کمښت په زړو خلکو کې شدید عوارض رامنځته کوي چې له امله یې د سختې عصبي ناراحتۍ تر څنګ، د هاضمې سیستم د مایعاتو په ترشح کې هم ستونزې را منځته کېږي.

ډاکټران وايي، د لږ وخت لپاره د ویټامین بي ۱۲ کمښت د وینې د کمښت ،سټریا، ډېفرېشن او حتی لېونتوب لامل هم کېدای شي، خو د ډېر وخت لپاره د دغه ویټامین کمښت مغز او مرکزي عصبي سیستم ته دایمي او نه جبرانېدونکي زیانونه اړوي.